2017550 139621

# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د غویي ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د مې ۱۲مه | ۵۳۹مه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### ځېړنوال مولوي زين الله منلی



اروانښاد زين الله منلي سره له دې چې ډېرې دندې ترسره کولې، ترڅنګ يې مهمې مقالې هم خپرولې. د ده مقالې لا هم د ډېرو علمي او ادبي مسايلو لپاره غوره او باوري سرچينې ګڼل کېږي.

### خیرخواه: روان کال په پروان کې د ۲۰۰ ميليونو افغانيو په لګښت ۴۸۰ پروژې پلې کېږي



د پروان د کرنې او مالدارۍ رياست چارواکي وايي، چې روان کال به په دغه ولايت کې د دوو سوو ميليونو افغانيو په لګښت ۴۸۰ پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د دغه ولايت د کرنې او مالدارۍ رييس عبدالوهاب خيرخواه ويلي، چې په دغو پروژو کې ۲۰۰ مميزخونې، سل د پيازو د ساتنې زېرمتونونه، ۵۰ د کچاليو د ساتنې خونې او پاتې نورې يې د وچې مېوې د ساتنې په پار سړې خونې دي.

هغه ويلي، چې په دغو پروژو ټولټال ۲۰۰ ميليونه افغانۍ لګښت راځي او تر راتلونکو څلورو مياشتو پورې به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

نومونړي دغه راز زياته کړه چې هره سړه خونه او زېرمتون له ۱۰ تر ۲۰ ټنو مېوو د ساتنې ظرفيت لري. د خيرخواه په خبره، چې يادې پروژې به اړتيا ته په کتو، د دغه ولايت په مرکز او ولسواليو کې پلې شي.

# د ارګ او سپېدار طرحه؛

## د حکومت پر وېش او د ملي مصالحې د عالي شورا پر جوړولو توافق شوی دی



۳

د کرنتين او ګرځبنديز ماتول، بديل او ګټې

۲ مخ

نړۍ پر چيني درملو متکي ده؛ اروپا ان يو ګرام استامينوفِن نه توليدوي

۲ مخ

مصلحتي اقتدار!

۳ مخ

### مشرانو جرګه: له کرونا سره د مبارزې په موخه ځانګړې شوې پيسې بې ځايه مصرف شوې دي

مشرانو جرګې په هېواد کې له کرونا ويروس سره د مبارزې په برخه کې پر شته ستونزو او په دې تړاو د پوښتنو د ځواب لپاره د ولسمشر سلاکار وحيدعمر اړوند کمېسيون ته ور بللی و.

د مشرانو جرګې د شکايتونو اورېدو کمېسيون رييس زلمي زابلي ټينګار وکړ چې له دغه ويروس سره د مبارزې په موخه د ځانګړو شويو پيسو ډېره برخه يې بې ځايه لګول شوي دي.

دغه کمېسيون له کرونا سره د مبارزې په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره د ۲۷ ميليونو افغانيو د لګښت د څرنګوالي، په کابل کې د څلورنيمو کيلو غنمو د وېش د پروسې او ولايتونو ته د کرونا لپاره د ځانګړو شوو پيسو د حيف و ميل کېدو په اړه له چارواکو د وضاحت غوښتنه وکړه.

د ولسشمر سلاکار وحيد عمر د سناتورانو د پوښتنو په ځواب کې وويل، چې واليانو خپلو ولايتونو ته د لېږل شوو پيسو د سم مصرف په اړه ولسمشر ته ډاډ ورکړی، خو هغه ټينګار وکړ چې له واليانو سربېره ولسمشر ماليې وزارت ته هم د دغو پيسو د نظارت صلاحيت ورکړی دی.

نومونړي دغه راز وويل، چې د څلورنيم کيلو غنمو د وېش پروسه آزمايښتي نه وه چې په وينا يې له ازمايښتي کلمې ناسم برداشت شوی دی. هغه زياته کړه، چې دولت په کابل او ولايتونو کې د مرستو د وېش په برخه کې د خپل ظرفيت په موخه دا پروسه پيل کړې وه.

وحيدعمر زياته کړه، چې له کرونا سره د مبارزې لپاره د عامه پوهاوي په برخه کې ۲۷ ميليونه افغانۍ پرځای لګول شوې او دا پروسه دې نوره هم پياوړې شي.

### طالبان د شوې هوکړې له مخې د بنديانو په ازادولو کې پاتې راغلي




۲ مخ

### امنیت ملی: رهبر جنوب آسیا و شرق دور گروه داعش در کابل بازداشت شد



ریاست عمومی امنیت ملی می‌گوید که ضیاالحق مشهور به شیخ ابوعمر الخراسانی، رهبر جنوب آسیا و شرق دور گروه داعش در یک عملیات مشترک نیروهای امنیت ملی و نیروهای ویژه پولیس بازداشت شده‌است.

به گفتۀ امنیت ملی وی شهروند افغانستان است و در کابل بازداشت شده‌است. در اعلامیه امنیت ملی آمده‌است که در این عملیات، صهیب، مسؤل روابط عامه و ابوعلی مسؤل استخبارات داعش شاخه جنوب آسیا نیز بازداشت شده‌اند.

در این اعلامیه آمده‌است: «ریاست عمومی امنیت ملی جمهوری اسلامی افغانستان در ادامه طرح جامع و جدید خود برای بازداشت و از بین بردن رهبران گروه‌های تروریستی منطقه‌ای و بین‌المللی، این بار ضیاالحق مشهور به شیخ ابوعمر الخراسانی رهبر جنوب آسیا و شرق دور گروه تروریستی داعش را در یک عملیات مشترک با قطعات خاص پولیس (۲۲۲) بازداشت کرده است.»

امنیت ملی گفته‌است که عملیات دستگیری این اعضای داعش، بربنیاد اعتراف اعضای دیگر داعش که در بند استند راه اندازی شد: «این عملیات بربنیاد اعترافات چهار مسؤل ارشد داعش که در بند امنیت ملی به سر می‌برند و تلاش‌های شبانه‌روزی تخنیکی و استخباراتی نیروهای امنیتی صورت گرفته است.»

این درحالیست که نیروهای امنیت ملی، ماه گذشته اسلم فاروقی، رهبر شاخه خراسان گروه داعش را با ۱۹ همکارش در جنوب کشور بازداشت کردند.




## درېـځ

# د کرنتین او ګرځبندیز ماتول، بدیل او ګټې

ځینـو رسنیو د عامې روغتیا وزارت د سرچینـو پـه حوالـه خبر ورکـړی چـې روان کرنتیـن بـه لـه اختر وروسـته نـه غځېږي او رخصتـي بـه نـوره ختمېږي. پـه دغـو خبرونو کې ویل شـوي چې وزارت د روغتیـا نړیـوال سـازمان د وروسـتیو سپارښـتنو پـر بنسـټ لـه کرونـا وبـا څخـه د هېوادوالـو د مخنیـوي پـه موخـه تـازه کړنلاره تـر کار لانـدې لـري چـې ژر بـه د حکومـت لـه مشرتابـه سره شریکـه شي او د حکومـت د مشرتابـه تـر غـور او کتنـې وروسـته بـه کرنتیـن او عمومـي رخصتـي پـای تـه ورسـېږي او دغـه پرېکـړه بـه هـم پـه رسـمي توګـه اعـلان شي.

کـه حکومـت داسـې یـو ګام واخلـي، دا بـه یـو مناسـب او غـوره ګام وي. کرونا اوږده لانجه ده او داسـې نـه ښـکاري چـې ژر به ختمـه شي. د دې تـر څنـګ کرنتیـن، ګرځبندیـز، د کارونو او ورځنیـو فعالیتونـو بنـدول او عمومـي رخصتـي د دې سـتونزې لـه حـل سره خاصـه مرسـته نـه کـوي. ښـایي دا چـارې د کرونـا د ځنـډ سـبب شي، خـو هېڅکلـه د کرونـا پـه مخنیـوي کـې اساسـي رول نـه شي لوبولـی. لـه همـدې املـه لـه کرونـا سره باید مبارزه روانـه وي، خو کرنتین او ګرځبندیـز بایـد ختـم شي؛ ځکـه چې له دې اړخـه را ولاړېدونکـي زیانونـه د کرونـا تـر زیانونو پـه ځلونـو زیـات دي. پـه افغانسـتان کـې کرونا ویـروس د اروپایـي هېوادونـو، متحـده ایالاتـو، روسـیې او ډېـرو نـورو هېوادونـو پـه پرتلـه جدي نـه دی، خـو هلتـه ورو ورو کرنتیـن لـه منځـه ځـي. پـه روسـیه کـې چـې هـره ورځ پکـې لس زره کسـان پـر کرونـا اختـه کېـږي، بیـا هـم د روسـیې ولسـمشر کرنتیـن ختـم کـړی او پـه مـشروط ډول یـې کاروبـار تـه اجازه ورکـړې ده. ډېـری اروپایـي او نـور هېوادونـه هـم کرنتیـن ماتـوي او هڅـه کـوي، خپـل اقتصـادي څـرخ بېرتـه فعـال کـړي.

دا یـو معقـول او سـم ګام دی چـې افغانسـتان هـم کرنتیـن او رخصتي ختمه کـړي او پرېږدي چـې اقتصـادي فعالیتونـه او د خلکـو ورځنـی ژونـد بېرتـه پیـل شي. البتـه د دې مانـا دا نه ده چـې هېڅ ډول تدابیـر باید نـه وي. ټول ممکنه تدابیـر بایـد ونیـول شي. د کرنتیـن لـه ختـم سره سـم بایـد نـور تدابیـر زیـات شي. د بېلګـې پـه ډول، پـه عامـو ځایونـو کې باید ضد عفوني کارونـه زیـات شي، د ماسـک او نـورو وسـایلو کارول بایـد زیـات شي. دغـه راز ټولـه هڅـه بایـد وشي چـې پـه کاروبـار کـې هم تـر ممکنه بریـده فاصلـه وسـاتل شي. داسـې نـه ده چـې پـه ورځنیـو کارونـو کـې د فاصلـې مراعاتـول شـونې نـه وي. ډېـر اقتصـادي فعالیتونـه او ورځنـي کارونه داسـې دي چې په طبیعي ډول پکـې فاصلـه مراعاتېـږي، خـو پـه ډېـری نـورو کارونـو کـې هم شـونې ده چې فاصلـه او تدابیر مراعـات شي. د کار او اقتصـادي فعالیتونـو مانا دا نـه ده چـې حتمـي به پکې کرونـا خپرېږي او یـا بـه تدابیـر پکې تر پښـو لانـدې کېـږي، بلکې دا چـاره شـونې ده. حکومت بایـد لـه خپله اړخه پـه دې برخـه کـې نه یوازې یـوه تـګلاره وړاندې کـړي، بلکـې پـه عملـي کولـو کـې بـه یـې هـم هڅـې کـوي. خلک هـم باید مرسـته وکړي چې د کاروبـار او اقتصـادي فعالیتونـو سره هممهاله تدابیـر هـم مراعـات شي. پـه دې ډول بـه مـو د کرونـا د پراختیـا بهیـر هـم پـخ کـړی وي او د اقتصـادي بحـران مخـه بـه مـو هـم نیـولې وي.

# نړۍ پر چیني درملو متکي ده؛ اروپا ان یو ګرام استامینوفن نه تولیدوي

سرچینه: فیګارو ورځپاڼه / ژباړن: حمیدالله حمیدي

د کرونـا نړیـوال بحران نړۍ یـو ځل بیا دې تـه متوجـه کـړه چـې د درملو پـه برخه کې پـه چین پورې تړلـې ده. ان مخکښ غربي هېوادنـه هـم د درملـو پـه برخـه کـې پر چیـن متکـي دي. دغـه راز د کرونـا بحـران اوس متخصصین او سیاسـي مسـوولین اړ کـړل، څو پـه دې فکر کـې شي چې په هر ترتیـب وي پـه ملـي کچـه د درملـو صنعت پیـل کـړي او لـه دغـه صنعت څخـه د یوې سـتراتېژیکې وسیلې په توګه ساتنه وکړي.

پـه فیګارو ورځپاڼه کې په یوه خپاره شـوي مطلـب کـې راغـلي چـې د تېـرو دېرشـو کلونـو پـه اوږدو کـې د نـړۍ ټولـو هېوادونو د امریـکا او اروپایـي هېوادونـو پـه ګډون، د درملـو او طبـي توکو پـه تولید باندې خپل حاکمیـت لـه لاسـه ورکـړی و او پـه دې څو کلیـدي لسـیزو کـې چیـن د درملـو او نورو طبي توکو لـه ۸۰ سـلنې ډېـر تولید پر غاړه درلـود.

د بېلګـې په توګه، په امریکا کې د لومړنیو توکو د تولید مواد او د ژنریک انتي بیوتیکو د جوړولـو لپـاره د کېمیـاوي ترکیباتـو ۹۷ سلنه له چین څخه واردېږي. دا پـه داسـې حـال کې ده چـې د امریکا او چین تر منځ اقتصـادي سـیالي او اقتصـادي جګـړه تـر بـل هر وخـت ګرمه شـوې ده.

لـه چیـن وروسـته د درملـو او طبـي توکـو بـل لـوی تولیدوونکـی هېـواد هنـد دی. دغـه هېـواد هـم پـه خپـل نوبت د لومړنیو مـوادو، درملو او طبي توکـو د تولید لپاره د اړتیـا وړ مـواد لـه چین څخـه واردوي. د یوه فرانسـوي کارپـوه پـه خبره چې هـره لار بیا هـم چیـن تـه ورګرځېدلـې ده.

د کرونا بحـران او کېدای شي وواېـم چې پـه نـړۍ کـې د ماسـکونو کمښـت د ټولـو هېوادونـو سـترګې یـو ځـل بیـا چین تـه ور واړولې. دا یوازې د ماسـکونو کمښـت نه و، د سرطـان او مېکـروب ضـد درملـو کمښـت هغـه وخت پـه امریکا او اروپا کې احسـاس شـو چـې پـه چیـن کـې د درملـو جوړولـو فابریکـو خپـل کارونـو وځنډول.

دغـه وضعیت د دې لامل شـو چې ائمانول مکـرون، ولادیمیـر پوتیـن او ډونالـډ ټرمـپ هـره یـوه پـه خپـل هېـواد کـې د درمـل جوړولـو د فابریکـو مسـوولین را وغوښـتل او پـه دې اړه یـې تـرې څېړنـې او پوښـتنې وکـړې. اوس داسـې ښـکاري چـې د هېوادونـو تر منځ ټولې سـتونزې باید یوې خواتـه شي او پـه ملـي کچـه د کېمیـاوي مـوادو، درملو او طبي توکو د تولید چوکاټ او میکانېـزم جـوړ شي.

اروپا یو ګرام استامینوفن نه تولیدوي

پـه فرانسـه کـې د درمـل جوړولـو ملـي اکاډمـۍ لس کاله واړانـدې بهرنیو قدرتونو تـه د درملو پـه برخـه کـې د وابسـتګۍ پـه اړه خبرداری ورکـړی و. د دې اکاډمـۍ یـوه غـړي «برونو بون‌مَـن» چـې د هېوادونو د درملـو د زېرمـو پـه اړه یـې څېړنـه کـړې، فیګارو ورځپاڼـې تـه ویلـي، د اروپـا د ۸٦ سـلنه روغتونـو لپـاره پـه ورځنـي ډول د درملـو کمښـت یـوه جـدي سـتونزه ده. ده ویلـي، د سرطـان او مېکـروب ضـد درمل او نـور هغه درمـل چـې د ځانګـړې مراقبت پر وخـت کارول کېـږي، لکـه د بې هوښـۍ او زړه ناروغیـو درمـل، هغه څـه دي چې اوس ډېـر کـم پیـدا کېـږي.

ډاکټـر بون‌مَـن وایـي، د مـخ پـر ودې هېوادونـو اړتیا او پخپله د چیـن اړتیا د دې لامـل شـوې چـې اروپایـان او امریکایـان پـه ډېـره لـوړه بیـه د خپلـې اړتیـا وړ درملیز توکـي لـه چیـن څخـه وارد کـړي. ان د کرونـا ویـروس لـه خپرېـدو مخکـې بـه هـم کلـه چـې پـه چیـن کـې د هـوا د ککړتیا د مخنیـوي او یـا هـم د فنـي سـتونزو لـه کبله پـه موقتـي ډول د درمـل جوړولـو د فابریکو کار وځنډېـد، نـو پـه امریکا او اروپا کې به د درملـو او طبـي توکـو کمښـت لـه ورایـه محسـوس کېـدو. ډاکټـر بون‌مَـن وایـي، دې ټولـو سـتونزو تـه په کتو مـوږ څو ځله د خطـر زنګ وکړنـګاوه، څو هېوادونـه راویښ شي او پـه دې برخـه کـې لاس پر کار شي. پـه دې باید پوه شـو چې اوس پـه اروپا کې ان یـو ګـرام استامینوفِن (پاراسـتامول) نه تولیدېږي.

یو وخت الماني درمل د پام وړ وو

د ۱۹۸۰ یمـې لسـیزې تـر نیمایـي پـورې پـه اروپـا کـې د درمـل جوړولـو صنعـت ډېـر مقتـدر او د پـام وړ و. «هوخسـت»، «بایـر» او «روش» د نـړۍ پـه کچـه د درمـل جوړولـو تـر ټولـو سـتر شرکتونـه وو، چـې د عامـو او خاصـو تـر منـځ یـې ځانګـړی نـوم او نښـان درلـود. دغـو شرکتونـو هغـه وخت د اروپـا د اړتیـا وړ ۸۰ سـلنه درمـل او طبي توکـي تولیـدول، خـو دېـرش کاله وروسـته د دغـه تولیـد کچـه پـه بـې سـاري توګـه را ټیټـه شـوه. د درملـو د تولیـد او صنعـت په برخـه کـې تـر ټولـو ډېـر او ژور بدلونونـه پـه ۱۹۹۰ یمـه لسـیزه کـې راغلـل.

د نړیوال بازار توهم او د کرونا څپېړه

فیـګارو ورځپاڼـه لیکـي، پخوا به ټـول هغه مـواد چـې درمـل بـه تـرې جوړېـدل، پـه یـوه هېـواد کې تولیدېـدل، خـو د تولید په نړیـوال کېـدو او «ژنریک»، درملو د تولید په پیلېـدو سره د نـړۍ د درملـو جوړولـو لویې فابریکـې، شرکتونـه او ځنځیري موسسـې سره وپاشـل شـوې. د بېلګـې پـه توګـه، د درملـو موثره ماده په چین، رنګ ورکوونکې یـا حجـم ورکوونکـې مـاده پـه هنـد او دغه راز مصنوعـي طعـم یـا ذایقـه ورکوونکـې مـاده پـه کـوم بل هېـواد کې تولیدېـږي. د ۲۱ مـې پېـړۍ پـه لومړیـو کـې داسـې فکر کېـدو چـې دا بـه یـو ډول د درملو جوړولو په برخـه کـې د هېوادونـو مرسـته او همکاري وي. پـه غـربي هېوادونـو کـې د درملـو لویو شرکتونـو ورو ورو خپلـې پانګـې کمولـې او مخ پـر ودې کوچنیـو شرکتونـو لـه همدې موقـع څخـه ګټـه واخیسـته او مارکېټ یې اشـغال کـړ.

خـو د ډاکټـر بون‌مَـن پـه خـبره، پـه هغـو کلونـو کـې هېڅ یو غربي هېواد پـه دې پوه نـه شـو چـې درمـل یـو سـتراتېژیک توکـی دی. د خصوصـي شرکتونـو چـې څـه زړه غوښـتل، کـول یـې. یـا پـه بـل عبـارت چې پـه دې برخـه کـې ملي حاکمیت لـه منځه لاړ.

المـان هـم لـه همـدې برخلیک سره مـخ شـو. د المـان د درمل جوړوونکو د انجمن د مشر سـټیفان لوفِر خبرې د ډاکټر «بون مَـن» لـه خبرو سره ډېـر ورتـه والـی لـري. پـه المـان کـې د درمـاني بیمـې شرکتونـو پـه دولت فشـار راوړ، هغـوی بـه ویـل چې د درملـو پـه برخـه کـې هـم اصـلي معیـار قیمـت دی، نـه کیفیت. هغه وخت هېچا د درملـو پـه برخه کـې پر اسـتقلالیت فکر نه کاوه، خـو کرونـا ویروس په بـې رحمـۍ سره دا پـه ډاګـه کـړه چـې د درملو پـه برخه کې هېـڅ نړیـوال بـازار نشـته. ټولـو هېوادونـو خپلـې دروازې د درملـو د صادراتـو پـر مـخ وتړلـې. هر هېـواد یوازې د ځان پـه اړه فکر کاوه، ان ټرمـپ هـم د درمـل جوړولو له یوه شرکت وغوښـتل چې یـوازې د امریکا لپاره د کرونـا واکسـین یـا درمـل جـوړ کـړي.

سـټیفان لوفِـر پـه ډېـر خواشـینې انـداز فیـګارو ورځپاڼـې تـه وویـل چـې د انتـي بیوتیکـو وروسـتۍ المـاني فابریکـه پـه ۲۰۱۷ ز کال کې وتړل شـوه. اوسـمهال په واشـنګټن او نـورو اروپایـي هېوادونـو کې د درملـو پـه برخـه کـې په چیـن پـورې د تړل کېـدو چـارې د سـیاسي رهبرانـو پـر ذهـن سـخت سـیوری غوړولـی او یـو ډول راویښ شـوي دي. لـه دې سره پـه څنـګ کـې ټول کارپوهـان پـه دې انـد دي چـې پـه ملـي کچـه د درملـو بیا تولید کېدای شي کلونه وخـت ونیسـي. امریکایـي څېړونکـې آغلې «رزمـري ګیبسـون» د درملو په برخه کې په چیـن پـورې د تړل کېدو په اړه د اندېښـنې پـه ځرګندولـو سره یـوه بېلګه راوړې، تاسـو فکر او تصـور وکـړئ، کـوم هېـواد به حاضر شي چـې د اړتیـا وړ ټول نفت یوازې له یوه هېـواد څخـه واخلي؟

# اوچا: د کرونا وبا له خپرېدو سره سم پر روغتیایي او مرستندیو کارکوونکو بریدونه ډېر شوي دي

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا ویلي، تېره میاشت په افغانستان کې پر مرسته رسوونکو کارکوونکو ۷۷ بریدونه شوي چې له دې ډلې یې ۳۰ یې له کرونا سره د مبارزې اړوند وو.

یادې ادارې د تېرې اپریل میاشتې په خپل راپور کې ویلي چې پاتې نور ۴۷ بریدونه د مرستې رسونې په نورو فعالیتونو شوي چې په افغانستان کې د مرستې رسونې د ادارو د کار پر وړاندې د ستونزو او ګواښونو چاپېریال منعکس کوي، خو اوچا دا نه دي ویلي چې دا دومره ډېر بریدونه د کومې ډلې له خوا شوي دي. سرچینې زیاته کړې چې وړمه میاشت بیا په افغانستان کې د بېړنیو مرستو کارکوونکو باندې ۸۵ بریدونه شوي وو.

اوچا ویلي، د کرونا له وبا سره د مبارزې په برخه کې په اپریل میاشت کې په ۳۳ ولایتونو کې د کرونا د وبا د خپرېدو د مخنیوي لپاره په ښارونو کې په یو ډول او بل ډول پر تګ راتګ بندیزونه لګېدلي وو.

د افغانستان لپاره د ملګروملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر په دغه راپور کې زیاته کړې: «له دې سره سره چې اوچا د بشري مرستو فعالیتونو ته د زمینې د برابرولو لپاره په ټول هېواد کې د یوې حللارې د موندلو ملاتړ کوي، ولایتي چارواکو ته د بشري فعالیتونود دوام په ګډون د بندیزونو د لګولو د بنې د ټاکلو واک ورکړل شوی دی».

یادې نړیوالې ادارې ویلي، د روژې د میاشتې له پیل وروسته په یو شمېر ولایتونو کې په لګېدلو بندیزونو کې نرمښت راغلی دی.

دا اداره وایي، د کرونا ویرویس د مثبتو پېښو زیاتېدو ته په کتو د بندیزونو لرې کول به موقتي وي او له دغې وبا سره د مبارزې لپاره بندیزونو ته اړتیا شته.

ملګروملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر په دغه راپور کې د بشري اړتیاوو له مخې په افغانستان کې د اوربند د ټینګېدو مسئلې یادونه کړې او ویلي یې دي چې طالبانو په ځرګنده د اپریل په ۲۴ مه د اوربند د ټینګېدو غوښتنه رد کړې ده. اوچا وایي: «دا په دې معنی ده چې د کرونا د وبا له امله رامنځته شویو ستونزو ته د لاسرسي په برخه کې له ګواښونو سربېره جګړه هم همداسې لا د بشري فعالیتونو لپاره ګواښونه را ولاړوي او په دې میاشت کې یې نهو ځایونو ته لاسرسی محدود کړی دی».

# امنیت شورا: طالبان د شوې هوکړې له مخې د بندیانو په ازادولو کې پاتې راغلي

د ملي امنیت شورا ویلي، طالبان د شوې هوکړې له مخې د بندي افغان سرتېرو په خلاصولو کې پاتې راغلي دي.

د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل چې طالبانو تر دې مهاله ۱۷۱ بندیان ازاد کړي چې په وینا یې، یوازې ۱۰۵ تنه یې د امنیتي او دفاعي ځواکونو غړي دي.

هغه وویل چې افغان حکومت تر دې مهاله د طالب بندیانو ازادولو په اړه له شوې هوکړې سره سم روان دی او تر اوسه یې ۱۰۰۰ طالب بندیان ازاد کړي دي.

نوموړي زیاته کړې چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو د هوکړې له مخې طالبانو چې باید د خپلو پنځو بندیانو پر سر یې د افغان حکومت یو بندي ازاد کړی وای، مخ ته نه دي تللي.

امنیت شورا دغه راز ویلي، طالبانو باید د خپلو ۱۰۰۰ بندیانو په مقابل کې تر دې مهاله د افغان حکومت ۲۰۰ بندیان ازاد کړي وای.

فیصل وویل، د دې لپاره چې د افغان حکومت لخوا د پاتې بندیانو ازادولو بهیر پیل شي، طالبان باید له خپلو زندانونو څخه ۲۰۰ افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه ازاد کړي. د هغه په خبره: «که طالبان د هغه پنځه ـ یو تناسب په اساس مخ ته ولاړ نه شي، موږ هېڅ مکلفیت نه لرو چې مخته ولاړ شو. مهمه دا ده مخکې له دې چې موږ له ۱۰۰۰ تنو څخه زیات بندیان ازاد کړو، طالبان باید دامنیتي او دفاعي ځواکونو ۲۰۰ سرتېري باید ازاد کړي.»

امنیت شورا داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې طالبانو تر دې مهاله په کندهار، لغمان، کندز، هرات او بادغیس کې د سلګونو بندي افغان سرتېرو د ازادېدو خبر ورکړی او ویلي یې دي چې دغه بهیر ته به دوام ورکړي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین تېره ورځ په ټویټ کې وویل چې پرون او وړمه ورځ یې په بادغیس او فاریاب ولایتونو کې د حکومت ۵۳ بندیان ازاد کړي او دغه پروسه به روانه وي.



# مصلحتي اقتدار!

لیکنه: **رحمت الله نبیل**
د ملي امنیت پخوانی رییس

ډېر شیان په موقت ډول او امانت اخیستل کېدای شي، خو د یوه ملت او یوه هېواد اقتدار په امانت او یا پور نه اخیستل کېږي. ټول پوهېږو، چې د یوه هېواد او یوه ملت پیاوړتیا او هیبت یوازې د هغوی خپل ملي اقتدار دی؛ ځکه په پردي او مصلحتي اقتدار هېڅکله د یوه هېواد ثبات نه تضمینېږي.

د مشروع دولتونو د اقتدار د مشروعیت سرچینه خلک او ملت وي؛ ځکه همدا ولس یې تر شا وي او د ملا د تیر په څېر پکې ارزښتمن رول لري.

خو له بده مرغه، هغه څه چې په دې ورځو کې گورو، هغه د حکومتي مشرانو بې خبري یا د هېواد پر حالاتو ځان نه خبرول دي او یوازې د وېش دوې بوختیاوې لر. لومړی؛ د څو سرتېرو په وینو رنگ د وچو ډوډیو وېش؛ بل هم د ځان او خپلو ملاتړو لپاره د واک او څوکیو وېش!

دا وضعیت په داسې حال کې دی، چې د افغان ملت په استازیتوب او د هغوی په برخلیک ډاکټر خلیلزاد، له پاکستان او نورو هېوادونو سره خبرې کوي او دا هغه څه دي، چې د سولې بین الافغاني خبرې به یې بللې.

که له ښاغلي خلیلزاد سره زموږ غم یې زموږ د ولس په خیر پرېکړه کړې وای.

د تاریخ روښانتیا موږ ته راښیي، چې موږ هغه وخت مشروع اقتدار، ملي حاکمیت او تلپاتې سولې ته رسېدای شو، چې افغانان په خپله پر خپل برخلیک حاکم شي، د خپل مالکیت حس ولري او د بل په مرسته د مصلحتي واک، چې په دوکه او حیله تر لاسه کېږي، ډډه وکړي.

دا باید ومنو، چې د مالکیت حس لرل له هېڅ هېواد سره د دښمنۍ مانا نه لري، بلکې زموږ حق او اړتیا ده. د دولت حاکمیت او اقتدار هېڅکله د څو رهبرانو او نیمه رهبرانو تر منځ د قوم او ژبې په نوم د څو څوکیو او لنډمهالي موقفونو په وېش نه ترلاسه کېږي.

تر اوسه چې هر ځای، د غرور، افتخار، مېړانې، زغم، حوصلې او زړورتیا بحث کېږي، نو د افغانستان د سرښندونکي ولس نوم ورسره تړلی او یادېږي، خو چې بیا پر همدې ولس واکمنو او سیاسي حاکمانو ته راشي، نو تل یې دا ارزښتونه د لنډمهالي او عاریتي واک تر لاسه کولو لپاره، د خلکو له سترگو پټ او پنا معامله کړې او ناوړه میراث یې پرې ایښی دی.

له شک پرته، زموږ هېواد په یوه ساده او صادقه سیمه کې نه دی پروت، بلکې په یوه حساسه جغرافیه او سیمه کې د حریصو او پراختیا غوښتونکو گاونډیانو تر منځ ژوند کوو، چې دا کار تل په کړکېچنه او له توطیو په ډکه فضا کې زموږ د پاتې کېدو لامل دی.

موږ هغه وخت په دې سیمه کې سرلوړی ژوند کولی شو، چې دولت او نظام مو له واحد ملته راوتلی مشروع اقتدار ولري.

د تاریخ په اوږدو کې زموږ په شاوخوا کې تل تېري کوونکي زبرځواکونه پراته وو، خو افغانستان د همدغو زبرځواکونو تر څنگ او له ستونزو په ډکه سیمه کې د یوه ځواکمن او استوار هېواد په توگه په داسې حال کې تعریف شوی ملي حاکمیت درلود چې غربت او تنگ لاسي به هم ځپلی و.

زموږ بدمرغي هغه وخت پیل شوه، چې د افغانستان رهبرانو او حاکمانو د نامشروع واک تر لاسه کولو او ساتلو لپاره د گاونډیانو لاسوهنو او د بل په لاس د افغانانو برخلیک ټاکلو ته اجازه ورکړه.

د تېرو څلوېښتو کلونو تجربه موږ ته راښیي، چې موږ باید د لنډمهاله او د بل په لاس راغلي واک اخیستو لپاره او د پردیو گټې خوندي نه کړو.


باید اجازه ورنه کړو، چې د گاونډیانو او زبرځواکونو د گټو لپاره د یوه پیاوړي او مقتدر نظام پر ځای، په افغانستان کې یوه نامشروع رژیم ته ورته نظام ولرو.

هو! موږ خپلې خبرې تل ښکاره او په صراحت کړې او هر وخت هم که د نظام سر ته راځو، له خپل ولسي ځواک پرته به، هېچاته د خپل برخلیک ټاکلو اجازه ورنه کړو.

گرچه بسیار دهد شاد نبایدت شدن
بهعطاهاش که جز عاریتی نیست عطاش

# د ارگ او سپېدار طرحه؛

## د حکومت پر وېش او د ملي مصالحې د عالي شورا پر جوړولو توافق شوی دی



تر میاشتو ناندریو وروسته ولسمشر غني او پخوانی اجرایه رییس د نوي گډ حکومت پر جوړولو هوکړې ته رسېدلي دي. رسنیو ته باوري سرچینو ویلي چې ولسمشر غني او عبدالله عبدالله پر یوې هوکړه توافق کړی او دغه هوکړه به ډېره ژر په ځانگړو مراسمو کې لاسلیک شي. ویل کېږي چې هوکړه د اجرایه ریاست له لوري جوړه شوې او ارگ هم ورسره منلې. د دې هوکړې له مخې، د پخوا په څېر حکومتي څوکۍ پنځوس سلنه وېشل کېږي، خو اجرایه ریاست به نه وي او پر ځای به یې د ملي مصالحې عالي شورا جوړېږي. ډاکټر عبدالله عبدالله به د دې شورا مشر وي.

تېر کال د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې ترسره شوې. د ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان څو میاشتې وخت ونیو. د لومړنیو پایلو تر اعلان وروسته تر یوې میاشتې ډېره موده د وروستیو پایلو پر اعلان تېره شوه. تر هغه وروسته د دوو مخکښو کسانو ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د پایلو پر نه منلو نانډرۍ را ولاړې شوې. په پلازمینه کابل کې په یوه ورځ د لوړې دوه مراسم ترسره شول او دوو کسانو ځانونه د افغانستان ولسمشران وبلل. د ټاکنو خپلواک کمېسیون ولسمشر غني بریالی اعلان کړ او نوموړي د لوړې په مراسمو کې د خبرو پر مهال وویل چې د گډ حکومت د جوړولو او ناورین د ختمولو لپاره د مذاکراتو لار خلاصه ده.

د سیاسي شخصیتونو په هڅو تازه د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله د ټاکنیزې ډلې ترمنځ پر یوه طرحه توافق شوی چې له مخې به یې گډ حکومت جوړېږي. په دې طرحه کې پخوانی اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د ملي مصالحې د عالي شورا رییس ټاکل کېږي، په حکومت کې به پنځوس سلنه ونډه ولري، همدا راز به د دولت عالي شورا جوړېږي او د ملي مصالحې عالي شورا به مستقل بودجوي واحد وي، بودیجه به یې افغان حکومت ورکوي او تر څنگ به یې له نړیوالو ملاتړو د پیسو اخیستلو جواز هم لري.

د ملي مصالحې د عالي شورا دفتر به سپېدار ماڼۍ وي او پنځه مرستیالان به لري. همدا راز ډاکټر عبدالله عبدالله به تر ولسمشر وروسته د هېواد دویم کس وي چې ټول تشریفات او دولتي رسوم به یې پر وړاندې پر ځای کېږي. د توافق په یوه برخه کې د حکومت د وېش په اړه ویل شوي چې ارگ به د ډاکټر عبدالله عبدالله ټاکنیزې ډلې ته په حکومت کې پنځوس سلنه ونډه ورکوي. د دې ونډې له مخې به ډاکټر عبدالله دندو او دولتي مقامونو ته خپل کسان ور معرفي کوي او دغه کسان به د ولسمشر غني له لوري مقررېږي. همدا راز ولسمشر حق لري چې د موجه قانوني دلایلو په لرلو سره د عبدالله عبدالله ټاکنیزې ډلې کسان له دندو گوښه کړي. د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله اړ ده چې معرفي کېدونکي کسان به یې وړتیا او پوهې ته په کتو په گوته کوي.

د دولت د وېش په برخه کې راغلي چې ولسمشر به د دې هوکړې د لاسلیک پر مهال د ولسمشر غني پخواني لومړي مرستیال عبدالرشید دوستم ته د مارشالۍ نظامي رتبه ورکوي او همدا راز به د دولت د عالي شورا غړی وي. عبدالله عبدالله همدا راز ویلي چې ملي مصالحې د عالي شورا سلاکاران به هم ځانگړي امنیتي او تشریفاتي امکانات لري. د مصالحې عالي شورا بیا د دندو ځانگړې لایحه لري. دوی به د سولې لپاره هڅه کوي، د سولې لپاره به بشري مرستې ټولوي، له سولې وروسته به د مرستو د جذب لپاره هڅه کوي، د سولې اړوند جلسې او غونډې به جوړوې، د مصالحې ملي شورا به جوړوي او غړي به یې منظمې غونډې لري.

د هوکړې د عملي کېدو او تطبیق لپاره هم د سیاسیونو د پنځه کسیز پلاوي د جوړېدو غوښتنه شوې چې که له دواړو لورو کوم یو د سولې هوکړه نقض کوي، نو دغه پلاوی به یې په تړاو اقدام کوي.

د دې طرحې په اړه په ټولنیزو رسنیو کې پراخ غبرگونونه پاربدلي دي او د حکومت وېش یې د ټولو په زیان بللی دی، خو ارگ یا سپېدار تر اوسه په دې اړه په رسمي توگه څه نه دي ویلي.

# د ښځنۍ نړیوال سازمان: د روسيې پوځ او سوري ځواکونو په ادلیب کې جنگي جنایتونه کړي دي



د ښځنۍ نړیوال سازمان ویلي، چې د سوریې په شمال لوېدیځ کې یې د تېر کال په اوږدو کې د سوریې د دولتي ځواکونو او روسیې د پوځ له خوا ۱۸ داسې بریدونه ثبت کړي چې له جنگي جرایمو سره سمون لري.

یاد سازمان ویلي، د سوریې دولتي ځواکونو او د روسیې پوځ د ۲۰۱۹ ز کال د مې او روان کال د فبروري میاشتو ترمنځ په ادلیب او شاوخوا هغو سیمو کې چې د حکومت د وسله والو مخالفینو مرکزونه پکې وو، پر روغتیایي تاسیساتو او ښوونځیو ۱۸ بریدونه کړي دي.

د بشري حقونو دې مدافع ټولنې ویلي چې په خپل نوي راپور کې یې له نړیوالو قوانینو د گنو جدي سرغړونو شواهد وړاندې کړي دي. په دغه راپور کې دا سرغړونې له بشري جرایمو سره انډول بلل شوې دي.

په شواهدو کې د سوریې د دولتي ځواکونو درې ځمکنۍ عملیات او د بېرلې بمونو دوه بریدونه یاد شوي او پاتې ۱۳ هوایي بریدونه دي چې دوه د سوریې د دولتي ځواکونو، اووه د روسیې د پوځ او څلور نور یا د سوریې یا د روسیې د پوځي ځواکونو له خوا شوي دي.

په راپور کې یادونه شوې چې ډېری دا بریدونه د روان کال په جنوري او فبروري میاشتو کې د وروستیو عملیاتو په ترځ کې شوي دي.

د ښځنۍ نړیوال سازمان دغه راز ویلي چې د دغو بریدونو موخه د سوریې په شمال لویدیځ کې په هغو سیمو کې دېره ملکي وگړي وو چې مخالفین پکې مېشت دي.

د راپورونو له مخې، له ډسمبر میاشتې راهیسې شاوخوا ۵۰۰ ملکي وگړي په سوریه کې وژل شوي او نږدې یو میلیون نور بېځایه شوي دي.

په سوریه کې په دې وروستیو کې د جگړو پراخېدل ظاهراً د هغو مخکینیو عملیاتو دوام دی چې د ۲۰۱۹ میلادي کال په اپریل کې پیل شول او په ترڅ کې یې هغه وروستۍ سیمې په نښه شوې چې د وسله وال اپوزیسیون په ولکه کې دي.

په هغو شواهدو کې چې د ښځنې نړیوال سازمان ثبت کړې، په اریحا ښار کې د جنوري میاشتې د ۲۹ مې هغه هوایي حمله هم شامله ده چې یوه روغتون ته نږدې وشوه او د راپور له مخې، لږترلږه دوې ودانۍ یې په بشپړ ډول ویجاړې کړې او ۱۱ ملکي وگړي یې ووژل.


د ښځنۍ نړیوال سازمان د سوریې حکومت په ادلیب کې د فبروري په ۲۵ مه پر یوه ښوونځي د ممنوعه کلسټر یا خوشه یي بمونو پر کارولو هم تورن کړی او ویلي یې دي، وروستي عملیات د هغو بې رحمیو لړۍ ته دوام ورکوي چې په ترڅ کې یې د ملکي وگړو د ترهولو په مقصد سیستماتیکې حملې شاملې دي.

## د کتـــاب خبـــري

# د یوویشتمې پیړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واکې په لاس کې واخله!
### څلورم څپرکی




دغه ډله خلک له خپل لاس او دماغ څخه په کار اخیستلو خورا ویاړي. که دوی شعار درلودای، نو شعار به یې دا و:«هېڅوک یې تر ما ښه نشي کولای.» یا:«زما د کار کولو خپله طریقه.» له تجارتي اړخه د دې خلکو د خپلواکۍ تر شا اوس هم یوه بې باوري موجوده ده، چې دا بې باوري پر ټول ژوند د بې باورۍ په مانا ده. ځکه په کوم ارزښت چې موږ خپل تجارت ته گورو، په هغه ارزښت د ژوند ټولو چارو ته گورو.

د دې خلکو زیاته گټه د کمېشن یا پر ساعت پیسو اخیستلو څخه لاس ته راځي. له داسې خلکو څخه به مو اورېدلي وي:«د ټول قیمت ٦ سلنه کمېشن زما دی» یا «زه پر ساعت ۱۰۰ ډالره اخلم» یا «۱۰» سلنه تر اصلي قیمت زیات زما حق کېږي.»

کله چې د E یا S کونج له هغو خلکو سره وینم چې غواړي د B کونج ته ولاړ شي، یانې د تنخوا او ازاد کار پر ځای تجارت شروع کول غواړي، هغوی په ستونزه کې وي. د دوی ستونزه دا وي چې تخنیکي او مدیریتي مهارتونه لري؛ خو د مشرتوب او رهبرۍ لخوا یو څه خوار وي. زما شتمن پلار وایي:((که تاسو د خپلې ډلې مشر او په ډله کې تر ټولو هوښیار یاست، نو ستاسو کاري ډله له ستونزو سره مخ ده.)) د S کونج خلک په یوه ډله کې په همکارۍ کار نشي کولای، ځکه په دوی کې یو څه غرور وي او هر څوک ځان ته یو څوک وایي. هر یو یې من وي.

که غواړئ چې له S کونج څخه B ته تغییر وکړئ، یانې له ازاد کار څخه تجارت ته واوړئ، نو تخنیکي مهارتونو ته نه، بلکې د مشرتوب او رهبرۍ مهارتونو ته اړتیا لرئ. لکه څنگه چې مې مخکې هم څو واره ویلي:« A درجه یانې تکړه زده کوونکي د C درجې یانې کمزورو زده کوونکو تر لاس لاندې کار کوي او B یانې منځنۍ درجه زده کوونکي د دولت لپاره کار کوي.»

**درېیم. د B کونج ارزښتونه**

«زه په تکړه خلکو پسې گرځم چې زما له کاري ډلې سره یوځای شي.»

د دې خلکو لپاره اصلي ارزښت «شتمنېدل» دی. هغو خلکو چې له صفر څخه کار پیل کړی او اوس لوی تجارتونه او شرکتونه لري، هغوی په ژوند کې لویې موخې لري. هغوی ډله‌ییز کار او کاري ډلې ته ارزښت ورکوي او تر خپله وسه خلکو ته کار او خدمت کوي. یو ازاد کارکونکی غواړي په خپله ډله کې تر ټولو بهترین واوسي؛ خو په تجارت کې بیا کوښښ کېږي چې د داسې خلکو کاري ډله برابره کړي چې هر یو یې په خپل مسلک کې تر ټولو بهترین وي. هنري فورډ په خپل کاري چاپېریال کې داسې خلک را ټول کړي وو چې ټول تر ده هوښیار او تکړه وو. ازاد کارکوونکی یا د S کونج اوسېدونکی تل په دې لټه کې وي چې ځان تر ټولو تکړه ثابت کړي؛ خو په B کونج یا تجارت کې دا شی چندان ښه نشي ثابتېدای. کله چې ته په B کونج کې اوسېږې، یانې لوی شرکت لرې، نو له داسې خلکو سره به لگیا یې چې تر تا هوښیار، تجربه لرونکي او تکړه وي. زما شتمن پلار رسمي تعلیم نه لاره؛ خو له لوړو زده کړو لرونکو مدافع وکیلانو، حساب کوونکو، د پانگونې مشاورینو، بانک لرونکو او ماهرینو سره یې سر و کار و. د شرکت د سرمایې د راټولولو لپاره یې داسې کسان گومارلي وو چې تر ده یې څو برابره زیاتې پیسې لرلې. که یې د دې شعار په رڼا کې ژوند کولای «که غواړې یو کار په ښه ډول سرته ورسوې، نو خپله یې وکړه» اوس به له ښې ډرنې او لویې ماتې سره مخ و.

که د گټې خبرې ته راشو، نو د شرکت خاوندان که کار پرېږدي، بیا به هم گټه ورته راروانه وي. زیات وخت د S کونج اوسېدونکی یانې ازاد کارکونکی که کار پرېږدي، نو گټه یې هم درېږي. په همدې خاطر باید دغه یو سوال همدا اوس له ځانه وکړئ «که په کومه ورځ کار پرېږدم، نو تر څه وخته به مې گټه جاري وي؟» که کار پرېږدې، خو بیا هم شپږ میاشتې یا تر دې لږ وخت گټه درته راځي، نو ته د E یا S په کونجونو کې اوسېږې. او که کار پرېږدې؛ خو گټه دې کلونه کلونه درته راراوانه وي، نو ته د B یا I په کونجونو کې اوسېږې.

**څلورم. د I کونج ارزښتونه**

**«پانگونه به مې څومره گټه وکړي؟»**

د دې خلکو اصلي ارزښت «مالي ازادي» ده. پانگوال د دې نظریې پلویان دي چې د دوی پر ځای باید د دوی پیسې کار وکړي.


پانگوال پر خورا ډېرو شیانو پانگونه کوي. دوی په سرو زرو، د ملکیتونو په پېرلو او خرڅولو، بېلا بېلو تجارتونو، سټاک بازارونو او مشترکو برخو کې پانگونه کوي.

خلک چې تر تقاعد وروسته کومې پیسې ترلاسه کوي، فکر کوي چې دا یې پانگونه کړې ده. یانې خپل تقاعد پانگونه گڼي؛ خو دوی تېروتنه کوي. اصلي خبره داسې ده، که ستا د پیسو گټل د شخصي پانگونې پر ځای د کومې کمپنۍ یا دولت له لوري په تقاعد کې درکول کېږي، نو ته په E کونج کې ژوند کوې. د پانگونې په کونج کې ژوند نه کوې، ځکه ستا مشر یا د هغه شرکت ستا د تېرو کلونو خدمت کولو په خاطر تا ته پیسې درکوي. ستا د پیسو گټه نه درکوي او گټه یوازې په پانگونه کې درکول کېږي.

**دوام لري...**

# څېړنوال مولوي زین الله منلی

شفیق امیرزی



څېړنوال مولوي زین الله منلی د هېواد جید دیني عالم، تکړه لیکوال، ژباړن او د ښه فکر خاوند شخصیت و. مولوي زین الله منلی له یو عمر هڅو، لیکنو او پښتني فرهنگ ته تر کار او خدمت وروسته د ۹٦ کلونو په عمر د رواني (غويي) میاشتې په ۱۳مه نېټه په کابل کې وفات شو. هغه دیني زده کړې کړې وې، له دیني مدرسې فارغ و، نو له همدې امله یې د ادبي برخې تر څنگ تر ډېره په دیني برخه کې هم لیکل کړي، ژباړې یې کړې او په دې برخه کې یې مطالعه لرله. اروانښاد مولوي زین الله منلی نه یوازې دا چې پخپله یې د افغان فرهنگ او ادب لپاره ډېر څه کړي، بلکې تر شا یې داسې کورنۍ پرې ایښې چې په روان فرهنگي بهیر کې ځلانده نوم او فعالیتونه لري.

اروانښاد مولوي زین الله منلی د عمر گل زوی د ۱۳۰۳ لمریز کال په وروړې میاشت کې د ننگرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ په کان کلي کې زېږېدلی دی. د اروانښاد کورنۍ هم د نورو افغان کورنیو په څېر له گڼو ستونزو سره مخ وه. دی پخپله لیکي چې د کورنۍ اقتصادي وضعیت یې ښه نه و، مزدوري او بزگري به یې کوله، ځمکې یې هم کمې وې او په ټوله کې د کان کلي د خلکو اقتصادي وضعیت ښه نه و. دی په ماشومتوب کې له جگړو، تالان او سخت ژوند سره مخ شوی چې همدې مسایلو نوموړی کلک او پیاوړی عادت کړ. دی پخپل قلم د خپل کلي د موقعیت په اړه لیکل کوي، په سیمه کې د روان حالت په اړه او همدا راز له ده سره د کورنۍ د چلند په اړه هم خبرې کوي. په یوه لیکنه کې وایي، ماشومتوب یې سخت و، وایي، پر مور مې ډېر گران نه وم، تل به یې راته د ځوانیمرگ شي خبره کوله. له نیا سره یې لگېده، دی لیکي چې پر نیا مې گران وم او نیا مې له ځان سره گرځولم.

د اروانښاد منلي ماشومتوب یوازې له دې ستونزو سره نه و مخ، بلکې جگړو هم د ده پر روان ناوړه اغېز کړی و. دی ماشوم و، د کلي له ښځو او مور سره یې و، چې پر کان کلي الوتکې راځي. ټول له کورونو تښتي او لرې تر ونو لاندې ځانونه پټوي. الوتکې بمبار کوي، دی چې هغه مهال ماشوم وي، په کوټه کې یوازې پاتې کېږي، الوتکو سخت وېرولی وي. دی وایي، الوتکو او بمبار دومره وېرولی و، چې تر هغه وروسته به هره الوتکه په هوا تېرېده، دی به وېرېده، نو مور، نیا او پلار به یې په غېږ کې پټاوه او د ده په غوږو کې به یې گوتې اچولې.

اروانښاد منلي د خپل کلي په اړه ټول معلومات ورکړي دي. له سېلابونو، بمبارونو، تالانونو، وچکالیو، کروندو، بېوزلیو او ورته مسایلو نیولې، ان د ملخانو تر راتگ پورې. په همدې شرایطو او چاپېریال کې اروانښاد منلي د زده کړو او تعلیم لپاره هم زړه ښه کاوه. غوښتل یې یو څه زده کړي. د اروانښاد زین الله منلي زوی نجیب منلی وایي چې په سختو شرایطو کې یې زده کړو ته مخه کړه. دی وایي، پلار یې د کلي له ملا د زده کړو پیل وکړ. بیا یې د خط زده کړه له خپل یوه ملگري چې د ملک زوی و، پیل کړه.

ملک یې خپل زوی ته میرزا نیولی و، هغه به چې څه له میرزا زده کول، نو اروانښاد منلي ته به یې ورښودل. دی پخپله هم وایي چې په سختۍ یې زده کړې کولې، د کلي له ملا یې لومړنۍ زده کړې پیل کړې، خو وروسته پوه شو چې د لا ډېرو زده کړو لپاره باید بل ځای ته په زده کړو پسې لاړ شي.

اروانښاد زین الله منلی هم پخپله لیکي: ((د کلي امام به کوچنیانو ته دیني سبقونه ویل، نو ما هم د کلي له امام سره سبق ویل پیل کړل. قرآن کریم مې ولوست، خلاصه کېداني، منیة المصلی، پنج کتاب، تحفة النصایح... دا کتابونه مې ولوستل. نور مې نو زړه نه غوښتل چې د کلي له بې سویه ملایانو سره سبق ووایم، زړه مې کېده چې چېرته له کوم لوی ملا او مولوي څخه سبق ووایم. دا کار ما ته په خپل کلي کې ممکن نه و، نو باید کوم بل ځای ته تللی وای)).

ښاغلی منلی په ۱۳۲۲ لمریز کال کې نجم المدارس مدرسه کې شامل شوی دی. په ۱۳۳۳ لمریز کال کې له همدې مدرسې فارغ شوی دی. د اروانښاد منلي له مدرسې سره جوړه وه، زده کړې او جومات یې خوښېدل، خو د وظیفې ټولولو خوند نه ورکاوه. په نجم المدارس کې ځکه شامل شو، چې هلته به مدد معاش ورکول کېده او له وظیفې ټولولو به شاگردان خلاص وو. په مدرسه کې د شاملېدو لپاره یې د کلي ملک ضمانت کړی و او دی اړ و چې په مدرسه کې پاتې شي او د تېښتې لار یې نه وه. څه موده وروسته د حکومت په مدد معاش کې ځنډ راغی، دی د وظیفې ټولولو ته اړ شو او د ضمانت له وجې یې مدرسه نه شوی پرېښودلی. په همدې وخت کې د ژوند د گڼو نورو سختیو په زغملو سره په ۱۳۳۳ لمریز کال کې له دې مدرسې د مولوي په حیث فارغ شو. دی یو زیارکښه انسان و. سره له دې چې د درس گردان به یې نه کاوه، خو پیاوړې حافظه یې لرله او په یو ځل لوستلو یې هر څه زده کولی شوای. له همدې امله یو څه بې پروا هم و، ملا ته به ډېر نه کېناسته او کله کله به یې په مدرسه کې شعرونه هم لیکل. ملایانو ورته ویلي وو، چې شعر لیکل گناه لري، نو دی به وېرېده، خو د استاد منلي په خبره، یوه ملا بیا دا فتوا ورکړې وه چې که د ښو شیانو په اړه شاعري وکړي، ښه بیانونه پکې وکړي، نو گناه به یې یو څه کمه شي. له همدې امله په مدرسه کې به چې هر مناسبت ته د شعر او وینا اړتیا وه، په اروانښاد منلي پسې به یې غږ وکړ او ده ته به بیا مصنوعي او فرمایشي شاعري خوند نه ورکاوه. دی په مدرسې کې له یوې خوا کار ته اړ و او له بلې خوا د درس ادامې ته. د مدرسې شاگرد و، چې واده یې هم وکړ. دی پخپله لیکي، چې د ژوند کړاوونه او بې وزلي له بل لوري، درسونه بلخوا او د واده مشکلات بلخوا، هغه څه و چې دی یې مقاومت ته اړ کړی و.

مولوي منلی له مدرسې تر فارغېدو وروسته کابل ته راځي. ده غوښتل نورو ځایونو ته په ملایۍ پسې لاړ شي، خو په کابل کې له استاد رښتین سره مخ کېږي او هغه ورته وایي چې باید په کابل کې پاتې شي او په پښتو ټولنه کې کار پیل کړي. په هغه وخت کې پښتو ټولنې تازه سیرت النبي چاپ کړی او خپور کړی و. د اروانښاد منلي ټول ژوند له دیني زده کړو او لیکنو سره تېر شوی و، نو ده هم تمه لرله چې دلته په همداسې یوه دیني کار وگومارل شي، خو پښتو ټولنې د پښتو لنډیو د ټولولو چارې پیل کړې وې، چې اروانښاد منلي ته هم دغه دنده سپارل کېږي. استاد نجیب منلی وایي، اروانښاد به هم کار کاوه او هم به یې پر دې ژړل چې د نېک کار په نیت راغلی، خو دلته د سندرو په لیکلو بوخت دی. اروانښاد بیا وروسته له دې کار سره بلدېږي، خوند ترې اخلي او دا چې شاعرانه مزاج یې درلود، نو له دې دندې سره زړه تنگی کېږي نه.

په پښتو ټولنه کې تر کار وروسته د یو څه مودې لپاره خوست ته د مفتي په توگه لېږل کېږي. هلته چې هر څه ویني، نو پوهېږي چې فتوا او عدالت دومره اسانه خبره نه ده. استاد منلی په خپله یوه لیکنه کې وایي، هلته یې پام شو چې قضا هغه مبارکه وظیفه نه وه چې عمر فاروق یادوله او په دې پوه شو چې مخکې له دې چې د قضا پر مسند کېني، باید ډېر کورونه رنگ کړي او پر ډېرو ستونو پښې کېږدي. افتا یې پر خپل ځای پرېښوده او بېرته پښتو ټولنې ته راغی. اروانښاد په کابل کې د هغه وخت له مشهورو لیکوالانو او ادبي فعالینو، لکه اروانښاد استاد سعدالدین شپون، اروانښاد حسن کاکړ، اروانښاد حبیب الله تږي او محمد دین ژواک په څېر کسانو سره ناسته ولاړه کوي. له همدې ځایه یې په نړۍ کې له نورو مروجو علومو سره هم اړیکه پخېږي. دی د ساینس په اړه مطالعه کوي، انگلیسي زده کوي، له فلم او سینما سره یې اړیکه ټینگېږي او ورځ تر بلې یې ژوند د پرمختگ مزل وهي.

په همدغه کابل کې د شرعیاتو په مدرسه کې د استاد په حیث مقرر شو. په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د سید جمال الدین افغان په اړه یو سیمنار جوړ شوی و او دی یې د چارو د اهتمام مسوول و. په دې کې ځینې مقالې وې، چې د سید جمال الدین د تجدد غوښتنې پر افکارو راڅرخېدې، د دې مسوولیت یې مولوي منلي ته راجع کړ او دی یې د جزایي استاد په حیث زرمت ته ولېږه. له هغه وروسته کابل ته راغی او ژمنه یې ترې واخیسته چې په معارف کې به کار نه کوي. له دې سره په اطلاعاتو او فرهنگ وزارت کې د ژباړن په حیث گومارل کېږي، بیا په پوهنې وزارت کې د عرفان مجلې د مرستیال په توگه دنده ترسره کوي. بیا په همدغه وزارت کې د تدریساتو مدیر و. بیا یې د حج او اوقافو د رییس په توگه دنده ترسره کوله او شوروي لښکر چې افغانستان ته راغی، نو اروانښاد منلی هم بې دندې و او بیا لږ وروسته یې په ستره محکمه کې دنده ترسره کوله. وروستۍ دنده یې د اسلامي څېړنو د مرکز ریاست و.

اروانښاد زین الله منلي سره له دې چې یادې دندې ترسره کولې، خو مهمې مقالې یې هم خپرولې. د ده مقالې لا هم د ډېرو علمي او ادبي مسایلو لپاره غوره او باوري سرچینې گڼل کېږي. استاد نجیب الله منلی وایي چې د پلار تر ټولو مهم کارونه یې په وروستیو پنځلسو کلونو کې ترسره شوي دي. د ده په خبره، تر هغه وروسته چې په هېواد کې جگړې یو څه کمې شوې، نوی حکومت رامنځ ته شو، نو اروانښاد پخپله غوښتل چې لاس پر کار شي او لیکل وکړي. نوموړي دغه مهال مهم کارونه کړي دي. استاد منلی یې په اړه وایي، چې اروانښاد منلي له ۱۳۸۵ لمریز کال وروسته یو ځل بیا قلم وچلاوه. د ده په خبره، د ژوند نیمایي ادبي او فرهنگي تولید یې په همدغو کلونو کې کړی دی. تر دې وړاندې یې ۱۵۰ شاوخوا مقالې چاپ شوې وې. تنویرالابصار (فقهي کتاب)، د مولانا عبدالکلام ازاد غبار خاطر کلیله او دمنه چې ژباړلې یې وه او چاپ نه وه. دا هغه اثار وو چې ده مخکې کار ورباندې کړی و، خو تر ۱۳۸۵ لمریز کال وروسته یې گڼ اثار ژباړلي او لیکلي دي.

... ۵مخ

همیانی

# په اوسنۍ دنده کې مو د خوښۍ لپاره انگېزه پیدا کړئ!

ژباړه: عطامحمد میاخېل

آیا له خپل کار څخه بېزاره یاست، خو په بېلابېلو دلایلو سره یې نه شی پرېښودلای او په جبري توگه دوام ورکوئ؟

که تر دې دمه مو د مشهورو کار رامنځته کوونکو او یا په کاروبار کې د با استعداده کسانو کیسې لوستې وي، نو دې متوجه کېږی، چې هغوی د یوې گډې ځانگړتیا لرونکي دي. دغو کسانو په کارځای کې د لټۍ او ټنبلۍ احساس کاوه او بدلون ته یې اړتیا درلوده، چې وکولای شي د هغې دندې په تگلورې کې چې له شوره ډک و، خپل ځان مبشت کړي.

ځینو کسانو له ځنډ پرته خپله دنده پرېښوده، په خپل کاروبار کې یې بدلون رامنځته کړ او د هغې دندې د موندلو لپاره یې هڅې وکړې، چې ورته ښه او غوره وه. په دې حالت کې هرڅوک د دغه کار لپاره مالي ثبات نه لري او باید په خپل اوسني کار کې پاتې شي، چې وکولای شي د خپل ژوند لگښتونه پوره کړي. دا کسان په داسې حال کې چې خپلو زده‌کړو ته دوام ورکوي، یو اړخیز کار ترسره کوي او یا خپل ځان ته په بل صنعت کې لاره هواروي.

آیا اوس د خپل کار د ترسره کولو لپاره له ستونزو سره مخ یاست؟ که داسې وي، دلته څو ټکي شته چې له تاسو سره د کاري انگېزې په موندلو کې مرسته کوي.

۱ - ذهن مو پر خپلې موخې متمرکز وساتئ

په کار کې د پاتې کېدو لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده چې پوه شی ولې دا کار ترسره کوی او موخه مو باید په بشپړه توگه مشخصه وي. که د کار کولو لپاره په خپلې واقعي موخې باندې ډاډه نه یی، نو پوه شئ، چې تاسو یوازې نه یاست، حتی که فکر کوی، چې د گټې ترلاسه کول ستاسو اصلي موخه ده، باید په ژوره توگه فکر وکړئ او له ځانه وپوښتئ چې ولې ستاسو لپاره د پیسو گټل مهم دي؟ آیا له خپلې کورنۍ څخه د ملاتړ لپاره؟ یا دلیل یې دا دی، چې د خپل کاروبار د جوړولو لپاره پیسو ته اړتیا لری؟ د خپل کار د ترسره کولو د دلیل ریښه پیدا کړئ او دا موخه په کار کې ستاسو په انگېزې باندې بدلېږي.

۲- د خپل موقعیت مثبت اړخ پیدا کړئ

مهمه نه ده چې مسلک مو څه دی، هره دنده مثبت اړخونه لري. ستاسو کار یوه اندازه له نورو سره د مرستې لپاره، چې په کاروبار کې یې ارزښت رامنځته شي او څه له هوښیارو خلکو سره د اړیکې د ټینگښت په خاطر وي، ډاډه اوسئ په خپل کار کې به داسې یو څه پیدا کړی چې ورسره مینه لری.

سپارښتنه کېږي چې کېنئ، درې هغه شیزونه، چې دمگړۍ په خپل کار کې ترې خوند اخلی، یاددښت کړئ. که کولای شی لا ډېر موارد پرې ور زیات کړئ، نو ښه ده. که یوازې کولای شی درې مواردو ته اشاره وکړئ او یا حتی نه شی کولای چې دغه درې موارد هم بشپړ کړی، هېڅ ستونزه نه لري.

کله مو چې خپل لیست پای ته ورساوه، کله چې کار ځای ته ځی، نو یاد لېست له خپل ځان سره ولرئ او هغه په داسې یوه ځای کې را ځوړند کړئ، چې وکولای شی په پرله‌پسې توگه ورته وگوری. کله چې د ناهیلی، ناخوښۍ او نارضایتۍ احساس کوی، د هغو شیزونو لړ لیک ته، چې په خپله دنده کې ورسره مینه لری، وگورئ او پرې تمرکز وکړئ. کله چې وکولای شی مثبت اړخونه پیاوړي کړی، تر ډېره به په خپل موقعیت کې د ارزښت پر وړاندې کولو باندې تمرکز وکړئ، حتی که په بشپړه توگه د دې کار له ترسره کولو څخه خوشاله ونه اوسی.

۳- په خپلو موخو او دا چې کار مو څنگه له تاسو سره مرسته کوي، چې هغو ته ورسېږئ، تمرکز ولرئ

که په خپل کار کې د لټۍ او ټنبلۍ احساس کوی، خپل بل مقام پیدا کړئ او هغه ته د رسېدو د څرنگوالي په باب نقشه جوړه کړئ. د دې کار ترسره کول له تاسو سره مرسته کوي، چې وکولای شی بل گام پورته کړی. پر دې موخو او پروگرامونو سربېره، بله موخه هم شاري او تاسو ته په اوسني کار کې مو انگېزه درکوي، دغه راز تاسو ته یادونه کوي، چې بشپړه موخه مو همدا کار دی، چې دمگړۍ یې ترسره کوی.

په پای کې په داسې حال کې، چې د خپلو وتلو پروگرام جوړوی؛ اوسنۍ دنده مو د ثابتې گټې د خوندیتوب لپاره یوه ساده او آسانه لاره ده، د اړتیا په صورت کې د خپلو موخو لیکلړ یا د خپلې اوسنۍ دندې موخه ولری، چې تاسو ته یادونه وشي، چې د څه شیز په لټه کې وی، داسې چې تل به یې په یاد راوړی، چې له خپلې دندې سره مینه نه لری، خو په اوس کې ترسره کول یې ستاسو لپاره اړین دي.

تاسو دغه راز کولای شی، یو مهالوېش په واک کې ولری چې په هغه کې د هغې نېټې لپاره ورځې وشمېری، چې خپله دنده پرېږدی او خپل ځان ته انگېزه ورکړئ. دا کار د دې سبب گرځي چې تر هغې ورځې پورې سخت کار وکړی، چې وکولای شی دا دنده تر شا پرېږدی او د خپلو خوبونو دنده ترلاسه کړئ.

۴- کوچنیو دندو ته په لاسرسي سره په کار کې د بریالیتوب احساس وکړئ

د هغه شیز په اړه فکر وکړئ، چې په خپل موقعیت کې مو د وروستي ځل لپاره ترلاسه کړ. څه احساس مو درلوده؟ مهمه نه ده، چې په کومه اندازه له خپلې دندې څخه بېزاره یاست؛ بریا ته رسېدل، په کار پورې اړوند دندو په ترسره کولو او هغو ته د پېژندلو او هڅولو لپاره د شور او هیجان سبب گرځي.

کله چې کوم څوک په دنده کې د لټۍ او ټنبلۍ احساس لري، ډېره لري خبره ده، چې په کار کې په بریا باندې متمرکز شي.

کوچنیو او ساده دندو ته په لاسرسي سره، په خپل ځان کې د بریا احساس رامنځته کړئ، کله چې په خپل کار کې بریالي یاست، نو له هغه سره به ډېره زیاته مینه او لېوالتیا ولری. بریا ته په لاسرسي سره، له خپل کار سره به لا ډېره لېوالتیا ولری او که په هغه دنده کې، چې ورسره مینه نه لری، د انگېزې په را منځته کولو ستونزه شته، دا تگلورې ته د بېرته را گرځېدو لپاره یوه غوره لاره ده.

۵ - خپل احساسي کیفیت لوړ وساتئ

حتی که په خپله دنده باندې مین هم و اوسی، په هغه صورت کې چې احساسي کیفیت مو ټیټ وي، نو ښې کړنې به ونه لری. ښایي ډېر ستړي واوسی، په خپل شخصي ژوند کې په کافي اندازه بوختیا ونه لری او یا په خپل کارځای کې دننه او یا هم له هغه څخه بهر د ستونزو د تجربه کولو په حال کې یاست. دا موضوع به په منفي توگه ستاسو د کار په ټولو اړخونو باندې اغېزه وکړي.

کار ته له تگ څخه مخکې او حتی د ورځې په اوږدو کې هڅه وکړئ چې تر ټولو غوره احساسي کیفیت ولری. تاسو کولای شی، خپلو هغو همکارانو ته په نږدې کېدو، چې ورسره مینه لری یا له هغوی سره په مرستې کولو او له خپل یوه دوست سره په خبرو کولو سره یې ترسره کړی. په خپل ځان باندې پام کول، مو په کار باندې ډېره اغېزه کوي. دې ته پام وکړئ، که خوشاله واوسی، نو په ښه توگه به کار وکړی.

وروستۍ خبره

ښایي تل له خپل کار سره مینه ونه لری، خو کولای شی، په خپل کارځای کې د دندو د ترسره کولو لپاره اړینه انگېزه پیدا کړی.

که په اوسني موقعیت کې مو د لټۍ او ټنبلۍ احساس وکړ او د انگېزې له ستونزو سره لاس او گرېوان شوي یاست، له پورته پنځو ټکو څخه گټه واخلئ، چې له تاسو سره مرسته وکړي، د دې کار انگېزه تر لاسه کړئ. سربېره پر دې کولای شی چې نورې غوره کړنې هم ولری او له کمزورې اغېزمنتیا او کمې گټه اخیستنې څخه مخنیو وکړئ.



# څېړنوال مولوي زین الله منلی...

... د ده په خبره، خپاره شوي اثار یې د ۳۰ په شاوخوا کې دي، خو تر څنگ یې ناخپاره شوي اثار هم لري چې د پنځلسو یا شلو شاوخوا کېږي.

د اروانښاد زین الله منلي چاپ او خپاره شوي اثار تر دېرشو اوړي چې دلته یې د ځینو مهمو نومونه یادوم:

۱- تنویر الابصار (اسلامي فقه) پښتو ژباړه.
۲- غبار خاطر، د مولانا ابو الکلام آزاد اثر، پښتو ژباړه.
۳- دوه منگورې د یوې چیني ډرامې، پشتو ژباړه.
۴- کلیله و دمنه.
۵- د هیلو درشل، شعري کلیات.
۶- د اسلام تاریخ، د ډاکټر حمیدالدین اثر، پښتو ژباړه.
۷- فقهه اکبر د امام ابوحنیفه اثر، پشتو ژباړه.
۸- د قرآن کریم د ځینو لغاتو معنا.
۹- د هېواد په رسنیو کې شاوخوا ۲۰۰ بېلابېلې لیکنې او ژباړې.

همدا راز یې ناچاپ اثار هم د پنځلسو او شلو تر منځ دي چې د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي.

۱- عشره مبشره.
۲- د قرآنکریم پښتو ژباړه.
۳- د قرآن کریم کشف الآیات.
۴- بگهود گیتا.
۵- د فردوسي د شاهنامې پښتو ژباړه او لنډون.
۶- د امام رازي د تفسیر الکبیر د الفاتحې سورت پښتو ژباړه.
۷- د امام رازي د تفسیر الکبیر د یوسف سورت پښتو ژباړه.
۸- امانات، د امام رازي له تفسیر الکبیر څخه د اماناتو بحث.
۹- په تاریخ طبري کې د عبدالله ابن عباس راغلي روایتونه.

اروانښاد منلي په پښتو ژبه کې مهم او د حساب وړ پنځونې او ژباړې کړې دي. هغه یو دیني عالم و، د دیني ژبې تر څنگ یې پر خپله پښتو ژبه پوره تسلط درلود. له همدې امله یې ژباړه او دیني لیکنه خورا خوندوره او روانه ده. دی په اردو، فارسي، انگلیسي او عربي ژبو پوهېده، له همدې امله یې له یادو ژبو گټورې ژباړې کړې دي. د اسلام تاریخ یې له اردو ژباړلی دی. د فردوسي شاهنامه او د عطار منطق الطیر یې له فارسي راژباړلي چې لا چاپ شوي نه دي. ده تر ډېره هغه اثار راژباړلي چې د ټولنې درد دوا کولی شي، دیني اړخ لري او یا هم د اخلاقي روزنې لپاره مهم دي. تر څنگ یې د شاهنامې په څېر حماسي او مهم اثار هم ژباړلي چې خورا مهم دي او د پښتنې فرهنگ د بډاینې لپاره د حساب وړ کارونه گڼل کېږي. اروانښاد منلي لسگونه مقالې هم چاپ کړې دي، ځینې یې ناچاپ پاتې دي، پر لیکه وېبپاڼو کې یې هم گڼې، ادبي، دیني او ټولنیزې لیکنې خپرې شوې دي. د استاد پر اثارو او فرهنگي فعالیتونو خبرې کول د پوره کتاب کار دی، خو موږ یې د اثارو او فعالیتونو لنډه یادونه وکړه.

اروانښاد منلی یې د خپلو کارونو له امله ستایل شوی هم دی. هغه چې کله تنویرالابصار وژباړه، نو د ډاکټر نجیب الله له لوري د دوستۍ په مډال ستایل کېږي او همدا راز پخواني ولسمشر حامد کرزي هم هغه د ټولو ادبي او فرهنگي کارونو لپاره ستایلی دی او د میرمسجدي خان مډال یې ورکړی دی. اروانښاد د عمر تر پایه په لیکلو او ژباړلو لگیا و او خپلې ټولې لیکنې به یې د وېبپاڼو له لارې له مینه والو سره شریکولې. هغه ښکلی نثر لیکلی، پیاوړې حافظه لري او په غوره لیکوالۍ کې دغه پیاوړې حافظې ډېره مرسته ورسره کړې ده. روح یې ښاده یاد یې تلپاتې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶ |
| € | ۸۱,۸۰ |
| Rp. | ٤۷٥ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۳۹۹ د غويي ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د مي ۱۲مه | ۵۳۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af   twitter/MaseerDaily   Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲۲ | ۳٤ | ۲۳ | ۳۱ | ۲۵ |
| ۱۳ | ۱۰ | ۱۸ | ۱٦ | ۱۹ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۷ | لمر ختل ۰٤:٥٤ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:۵۰ | ماخوستن ۰۸:۲٤

سه شنبه ۱۳۹۹/۲/۲۳
د سهار اذان ۰۳:۱۷  د ماښام اذان ۰٦:۵۰
رمضان کریم

نړۍ



د بښنې نړيوال سازمان: د روسيې پوځ او سوري ځواکونو په ادليب کې جنګي جنايتونه کړي دي ۳

## اتمر: سازمان همکاری های اسلامی طالبان را برای پیوستن به روند صلح تشویق نماید

سرپرست وزارت امور خارجه کشور ضمن خواستار حمایت کشورهای سازمان همکاری های اسلامی از روند صلح افغانستان می گوید که این سازمان طالبان را برای پیوستن به روند صلح تشویق نماید.

در خبرنامه ای که از سوی وزارت امور خارجه افغانستان منتشر شده، آمده است که محمد حنیف اتمر سرپرست این وزارت با نماینده و سفرای کشورهای عضو سازمان همکاری‌های اسلامی مقیم کابل از طریق ویدیو کنفرانس صحبت کرد.

در ابتدا سرپرست وزارت خارجه کشور به نماینده و سفرای کشور های عضو سازمان در مورد پیشرفت ها و تحولات اخیر سیاسی در افغانستان، مبارزه حکومت افغانستان با شیوع ویروس کرونا، نیازمندی های مالی و تخنیکی افغانستان و تلاش های جمهوری اسلامی افغانستان در روند صلح معلومات مفصل ارایه نمود.

همچنان سرپرست وزارت خارجه کشور، از کشور های همسایه در زمینه حفظ و توسعه تجارت و ترانزیت با تاجران افغانستان و فعال نگهداشتن مسیر ترانزیت کالا در بنادر و گمرکات آن کشور ها تشکری نموده و از کشورهای ازبکستان، پاکستان و قزاقستان خواست تا به منظور تامین هر چه بهتر امنیت غذایی شهروندان افغانستان، در زمینه واردات مواد غذایی با تاجران افغان همکاری نمایند.

سرپرست وزارت خارجه از ایفای نقش موثر سازمان همکاری های اسلامی در امر تامین صلح پایدار در افغانستان قدردانی کرده افزود، که حمایت این سازمان از آتش بس بشردوستانه، آغاز عاجل مذاکرات صلح، تبادله زندانیان میان گروه طالبان و دولت افغانستان و تقویت جمهوریت اسلامی در افغانستان، تاثیرات تعیین کننده در پی خواهد داشت.

## راپورونه: د پوځي تمرينونو پرمهال د ايران ۳۴ سمندري ځواکونو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

ايراني چارواکو تاييد کړې چې د دغه هېواد يوې پوځي بېړۍ په بندر عباس کې سهواً د «کنارک» په نوم يوه بله ايرانۍ پوځي بېړۍ په راکټ ويشتلې ده. ايراني چارواکي ويلي، په دغه پېښه کې د ايران ۱۹ سمندري ځواکونه وژل شوي او ۱۵ نور ټپيان دي. دا په داسې حال کې ده چې ايراني رسنيو تېره ورځ د ايران د سمندري ځواکونو د مطبوعاتي دفتر د اعلاميې پر اساس ويلي وو چې دغه پېښه په «چابهار او جاسک» اوبو کې د ايراني سمندري ځواکونو د پوځي تمريناتو پرمهال رامنځته شوې ده. رویټرز خبري اژانس بيا ويلي چې دا پېښه د عمان په خليج کې د اوبو په يوه حساسه لار کې چې د هورمز تنګۍ سره نښلوي، رامنځته شوې ده. ياد خبري اژانس ويلي، له دې لارې د نړۍ شاوخوا پنځمه برخه تېل تېرېږي او ايران په منظم ډول په ياده سيمه کې پوځي تمرينونه ترسره کوي. د دغه هېواد چارواکو ويلي چې تر پېښې وروسته مرستندويه سمندري ځواکونه سيمې ته رسېدلي او د پېښې قربانيان يې له بېړۍ څخه ايستلي او روغتيايي مرکزونو ته يې انتقال کړي دي. چارواکو د ټپي شوو ايراني سمندري ځواکونو روغتيايي حالت د ډاډ وړ بللی دی او ويلي يې دي چې په دې اړه څېړنې کوي.

## د روغتيا نړيوال سازمان: د کرونا ضد واکسين جوړېدل ښايي له ۱۰ تر ۱٦ مياشتو پورې وخت ونيسي





په داسې حال کې چې د کرونا ويروس مثبتې پېښې په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي، تازه د روغتيا نړيوال سازمان ويلي چې د دغه ويروس لپاره د واکسين جوړېدل به ښايي ۱٦ مياشتې وخت ونيسي.

د دغه سازمان مشر تدروس ادهانوم ويلي، چې په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله رامنځته شوي بحران اندېښمن کړي يو، خو په خبره يې چې د دغه ويروس ضد واکسين د جوړولو لپاره يې هڅې چټکې کړې چې ښايي له ۱۰ تر ۱٦ مياشتې وخت به ونيسي. د روغتيا د نړيوال سازمان دغه څرګندونې داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې د کووېډ-۱۹ ويروس له ۴.۲ ميليونو زياتې مثبت پېښې ثبت شوې او دغه راز د ياد ويروس له کبله ۲۸۵ زره او ۳۱۵ کسان مړه شوي دي.

د تازه شمېرو له مخې، امريکا لاهم د دغه ويروس د مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه په نړۍ کې تر ټولو مخکې ده. د دغه شمېرو له مخې په امريکا کې د دغه ويروس د مثبت پېښو شمېر له ۱.۳ ميليونو اوښتی او دغه راز يې ۸۱ زره او ۵۲ امريکايان مړه کړي دي. له امريکا وروسته برېټانيا، ايټاليا، اسپانيا، فرانسه، جرمني، برازيل او روسيه هغه هېوادونه دي چې د دغه ويروس له کبله ډېر ځپل شوي دي. د روغتيا نړيوال سازمان مشر پر ټولو غږ کړی چې له دغه ويروس څخه د مخنيوي په پار دې روغتيايي سپارښتنې جدي وګڼي.

ژوند

## د ماشوم د زده کړې اصل تقليد دی



رښتينولي تر ټولو ښه سياست دی. ستاسو په اند ايا يو دروغجن انسان د درناوي وړ دی؟ ايا تاسو هغه چاته درناوی کوی چې دروغ وايي؟ که له تاسو څخه کومه تېروتنه کېږي، ښښنه وغواړئ. په تېره بيا دغه څه د خپلو ماشومانو په مخ کې وکړئ، څو هغوی هم ښښنه غوښتل زده کړي؛ ځکه ماشوم په دې سره پر خپل نفس اعتماد پيدا کوي او له ځانه سره فکر کوي چې زما پلار او يا مور چې تر ما لوی هم دي، تېروتنه کوي او د تېروتنې جبران په ښښنې سره کېږي. هڅه وکړئ چې د خپلو ماشومانو پر مثبتو ټکو تمرکز وکړئ. که خدای مه کړه ماشوم مو کله هم تېروتنه کوي، مه يې رټئ او بد رد مه ورته واياست؛ ځکه دغه يې حللاره نه ده. د خپلو ماشومانو ستأينه وکړئ، خو پام مو وي چې په دې برخه کې زياتی درڅخه ونه شي او هسې نه چې دروغ ووايی.

## روژه او د رومي بانجانو ګټې!



رومي يا سره بانجان ټيټه کالوري لري؛ ځکه يخه مېوه يا سبزي ګڼل کېږي. له غوړيو، مالګې او سوديم څخه خالي دي او د ويټامين A او C لرونکي او د پوټاشيم سرچينه بلل کېږي. په روژه کې سرو بانجانو ته تر بل هر وخت ډېره اړتيا ليدل کېږي؛ ځکه سره بانجان د انسان د بدن اوبه او ويټامينونه په نورمال ډول ساتي او د ډېرې تندې او لوږې مخنيوی کوي، نو که غواړئ په روژه کې سره بانجان په خپل غذايي رژيم کې ور زيات کړی، نو دغه سپارښتنې هم په پام کې ونيسئ. له سلاد سره مالګه مه ګډوئ؛ ځکه ډېره مالګه روغتيا ته زيان رسوي او د ورځې په اوږدو کې د تندې لامل کېږي. پاخه شوي سره بانجان سره له دې چې خوندور دي، تر خنګ يې د لوړې کالوري څخه هم خالي وي. خام بانجان که له پنېر او سبزۍ سره وخوړل شي، دسترخوان ښکلی کوي او د روغتيا لپاره ګټور دي.


ماسټر ډبټ کارت

د عزيزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

1515   www.azizibank.af

عزيزي بانک
Azizi Bank